**مطبوعاتي اعلامیه**

**د فلسطین د سپېڅلې خاورې ماشومان د دې خاورې د رژیم د پرله پسې خیانت لپاره قرباني ورکوي**

**(ژباړه)**



په هغه راپور کې چې د الجزیرې تلویزیون د انګلیسي خبري سرویس له خوا خپور شو، ملګرو ملتونو د یهودي دولت له خوا د فلسطین د سپېڅلې خاورې ماشومانو نیونه محکومه کړه او داسې یې وویل: «د دغو ماشومانو د ازادۍ محرومیت بنسټیز شوی، سیستماتیمک او پراخه بڼه لري.» د ملګرو ملتونو راپورونو په یوه برخه کې چې د بشر حقونو په شورا کې وړاندې شول، څرګنده کړه، چې د فلسطین د سپېڅلې خاورې خلکو د ژوند شرایط په غربي ترانګه او غزه کې له تېر کال څخه سخت شوي دي او د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د عالی کمیسارۍ مرستیال «کیت ګیلمور» په خبره، دغه ماشومان د یهودي دولت د درنو فشارونو لاندې څنګه وخت تېروي.

د دغو ماشومانو له کورنیو څخه د یو شاهد په خبره، یهودې دولت د دې سپېڅلې خاورې د ماشومانو خپل سري نیولو ته دوام ورکوي، سربېره پر دې مخکې هم د دغو بنسټونو له لوري د دې سپېڅلې خاورې سلګونه ماشومان چې هېڅ جرم یې نه درلو په ازاده توګه نیول شوي وو، سره له دې د یادو بنسټونو له خوا سلګونه تنه نور هم ونیول شول. همداراز یهودي دولت په دې پلمه چې ماشومان د دولت پر وړاندې فعالیتونه کوي او له ټولو هغو کنوانسیونونو چې ګواکې د نړیوالو قوانینو په نوم د ماشومانو د حقونو د

ملاتړ او تضمین په موخه رامنځ ته شوي، د تخطی په پلمه زنداني کوي. نو ویلی شو چې دا په نړۍ کې یوازینی دولت دی چې په نظامي محکمو کې د لوړ عمره کسانو غونډې کم عمره ماشومان څوروي او په زندانونو کې پرې غیر انسانی تګلاري تحمیلوي؛ تر دې پورې چې هغوی د ناوړه ګټه اخیستنې، تاوتریخوالي او په بېلابېلو بڼو شکنجه او عذاب محکوم شوي، چې په پای کې یې د دوی او د دوی د روحیې د له منځ وړلو لامل کېږي.

پر دغو راپورونو سربېره، نړیوالې ټولنې او د بشر حقوقو سازمانونو ځانونه داسې چوپ نیولي چې ګواکې یاد ناوړه حالت نه ویني او څه نه اوري؛ د هغوی دغې چوپتیا څو ځله څرګنده کړه چې هېڅ کله د مظلومانو له حقونو ملاتړ نه کوي او لکه څنګه چې د بشر او ماشومانو د حقونو لافې وهي، د بشر او ماشومانو په حقونو پورې هېڅ اړه نه لري. ټول فعالیتونه یې په لیکنو او د بیانیو په صادرلو خلاصه کېږي او له دې ډېر کار نه کوي، ځکه کله چې موضوع د اسلام په اړه وي، مطلقه چوپتیا غوره کوي چې د دوی دغه چوپتیا له اسلام او مسلمانانو سره د دوی دښمني څرګندوي.

که څه هم تاسو وینئ چې هغوی ځانونه د بشر حقونو ملاتړي بولي، خو باید دې ته مو پام وي چې هغوی یوازیني کسان دي چې د بشر او ماشومانو حقونه تر پښو لاندې کوي، چې په اړه یې زیات شواهد شتون لري. همداراز موږ نه وینو چې «د دیتون لوړپوړو» د دغو ماشومانو د نیولو او نور حقونو تر پښو لاندې کولو پر وړاندې غږ پورته کړي، په ځانګړې توګه د امنیتي همغږۍ په برخه کې چې له یهودي ځواکونو ساتنه کوي.

**اې د فلسطین د سپېځلې خاورې خلکو!** داسې پېښو تل ثابته کړې چې هېڅ څوک نشي کولی، د دغو ښکېلاګرو چې تاسو او ستاسو ماشومان یې احاطه کړي، مخه ونیسي، مګر داسې دولت چې د اسلام پر بنسټ حاکمیت وکړي او عدالت خپور کړي، دا ځواکمن دولت د نبوت پر تګلاره د خلافت له دولت پرته بل نه شي کېدای. نو هغه کسان چې د دې ستړې موخې (د رسول الله صلی الله علی وسلم پر تګلاره د اسلامي خلافت له لارې د اسلامي ژوند بیا را ژوندي کول) لپاره یو ځای شوي هڅه کوي چې ورته ورسېږي او د تاسیس لپاره یې هڅه کوي ترڅو هغه احمق او ظالم رژیمونه چې ستاسو په سینو یې د حاکمیت مېخونه وهلي له منځ یوسي. ځکه الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ ۗ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ ۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ﴾**

[رعد: ۱۱]

*ژباړه: الله(سبحانه وتعالی) د هېڅ قوم حالت نه بدلوي، تر هغه چې هغوی په خپلو نفسونو کې بدلون رانه ولي. کله چې الله سبحانه و تعالی یو قوم د سزا ورکولو اراده وکړي، نو هېڅ څوک یې مخه نه شي نیولی او له الله سبحانه وتعالی پرته یې څوک سرپرستي نه شي کولی.*

د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګه

د صدور ګڼه: ۱۴۳۹AH/۰۱۸

د رجب ۹مه، ۱۴۳۹هـ.ق

د مارچ ۲۷مه، ۲۰۱۸م

ژباړن: فیاض